شاه‌ولی ارين


۲۰۲۶/۱۰/۱۲

# پر ښځو او نجونو باندې د اسلامي حقونو محدودیتونه

## (دویمه او وروستۍ برخه)

د طالبانو د واکمنۍ له ۲۰۲۱ کال وروسته پر نجونو باندې د مکتبونو او پوهنتونو د تړلو، د ښځینه ډاکترانو د روزنې د محدودیتونو تر څنګ لسګونه خبریالانې، مدني فعالانې او د ښځو د حقونو مدافعانې ونیول شوې، لنډمهاله بندیانې شوې او یا تر فشار لاندې راغلې. په همدې موده کې د افغان د ښځینه کرېکټ ملي لوبډلې غړې، د نجونو روباټ جوړوونکې ډله، هنرمندانې، د پوهنتون استادانې او سلګونو نورو مسلکي ښځو هېواد پرېښودو ته مخه کړه.

د ملګرو ملتونو ځانګړی راپورتر ریچارډبېنټ ویلي چې:

«افغانستان د ښځو د حقونو، مدني فضا او د بیان د ازادۍ له پلوه له بې ساري شاتګ سره مخ شوی دی.»

د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوو یونیسکو، یونیسف، د بشري حقونو نړیوال سازمان، د ښښي نړیوال سازمان، د بشري حقونو د څار سازمان، نړیوال بانک، اروپايي ټولنې، د اسلامي همکاریو سازمان او لسګونو نورو هېوادونو په تېرو پنځو کلونو کې په لسګونو راپورونه، اعلامیې او بیانونه په دې هکله خپاره کړل. دغو ټولو بنسټونو په پرله پسې ډول ټینګار کړی چې د ښځو او نجونو د زدهکړو او کار حق د نړیوالو بشري حقونو او د افغانستان د نړیوالو ژمنو اساسي برخه ده.

دوي وار وار له طالبانو غوښتي چې، د نجونو ښوونځي او پوهنتونونه پرانیزي. ښځو ته د کار حق بېرته ورکړي، مدني او ټولنیز محدودیتونه لرې کړي، د ښځو اساسي او انساني حقونو ته باید درناوی وکړي.

همدا ډول ملګرو ملتونو په وار وار ویلي چې د ښځو له ګډون پرته افغانستان نه اقتصادي پرمختګ کولای شي، نه بشري بحران مهارولای شي او نه هم نړیوال مشروعیت ترلاسه کولای شي.

اقتصادپوهان وايي:

«د هېواد نیمايي نفوس له کار او زدهکړو محرومول د افغانستان پر اقتصاد مستقیم اغېز لري.»

د ملګرو ملتونو، نړیوال بانک خبرداری ورکړی، چې د ښځو له اقتصادي فعالیت پرته د فقر کمول، اقتصادي وده او پراختیايي پروګرامونه له جدي ستونزو سره مخ کېداي شي.

روان وضعیت ښيي چې د کورنیو عاید کم شوی، د بشري پانګې د ودې بهیر ټکنی شوی، چې دا په خپله د افغانستان د راتلونکو نسلونو پر ظرفیت اوږدمهاله اغېز کولاي شي.

د ۲۰۰۱ او ۲۰۲۱ کلونو ترمنځ، که څه هم ښځې له امنیتي او ټولنیزو ګڼ شمېر ستونزو سره مخ وې، خو بیا هم میلیونونه نجونې ښوونځیو او پوهنتونونو ته ولاړې، زیات شمېر ښځو ته په دولتي ارګانونو، مؤسساتو، بهرنیوکمپنیو او نهادونو کې د کار شرایط برابر شول، خو د طالبانو د راتګ سره همدا اوس په زرګونو ښځې د بیکارۍ او اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

سره له دې چې طالبان لا هم وايي چې خپلې تګلارې د اسلامي اصولو پر بنسټ تنظیموي او د ښځو د حقونو په اړه یې دریځ د شریعت له تفسیر سره تړلی دی، خو د نړیوالو سازمانونو، د اسلامي نړۍ د ګڼو علماوو، د بشري حقونو




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښځو او ښاغلو، دکتورانو او د افغانستان د پخوانیو سیاسي مشرانو، دیني عالمانو او مدني فعالانو په باور، له زده‌کړو، کار او ټولنیز ژوند د ښځو او نجونو محرومول نه یوازې د اساسي بشري حقونو نقض دی، بلکې د افغانستان پر راتلونکې، اقتصاد او نړیوالو اړیکو هم ژور اغېز لري.

پایله کې دا ترلاسه کولای شوو، چې د طالبانو د واکمنۍ په تېرو پنځو کلونو کې د ښځو او نجونو د زده‌کړو، کار او ټولنیز حضور په اړه د طالبانو هغه لومړنۍ ژمنې عملي نه شوې، د امر ثاني په نامه لګول شوي محدودیتونه لا هم پر خپل ځای پاتې دي او د لنډمهاله اقدام پر ځای په یوه دوامداره سیاست بدل شوي دي.

په دې موده کې، د طالبانو دننه هم د ښځو د زده‌کړو په اړه بېلابېل نظرونه څرګند شوي، خو وروستۍ پرېکړه د طالبانو د مشر له حکم سره تړلې پاتې شوې ده.

د ملګرو ملتونو سازمان په افغانستان کې د ښځینه ډاکترانو او هغو نجونو چې زده‌کړې یې نیمګړې پاتې دي، د وضعیت په تړاو تازه سروې ترسره کړې او لیدل کېږي، چې په روان میلادي کال کې ښځې له ډېر بد روحي حالت سره مخ دي، د دې سروې پر اساس معلومه شوې؛ د نجونو پر زده‌کړو د بندیز له وجې تر ۷۰ سلنه زیاتې نجونې او مېرمنې له ذهني ګډوډۍ سره مخ دي، د سروې پر اساس، په طبیسکتور کې بوختې ۸۰ سلنه ډاکترانې او نرسانې د طالبانو د پرله‌پسې محدودیتونو وضع کولو له امله ناراضه دي او له همدې امله ورځ تر بلې دغه سکتور له ښځینه ډاکترانو او روغتیایي کارکوونکو نه خالي کېږي، هاخوا بیا د ښځینه پرسونل کموالي ښرته پر پاتې ښځینه سکتور کاري بوج زیات کړی دی. دې سروې کې ویل شوي چې، د همدې ګډوډ وضعیت او پرله‌پسې محدودیتونو له امله تر ۹۰ سلنه زیاتو په دندو بوختو ښځینه ډاکترانو عصري طبي مهارتونه له لاسه ورکړې دي او همدا ډول د ښځو پر کار د بندیز له وجې دوی د نویو مهارتونو زده کړه نه شي تر سره کولی.

همدا اوس په افغانستان کې د ښځینه ډاکترانو وضعیت د پرله پسې محدودیتونو، د مسلکي ودې د لارو د بندېدو او سختو کاري شرایطو له امله له جدي ننګونو سره مخ دی.

د نویو ډاکترانو نشتوالی پر نجونو د لوړوزده کړو او طبي پوهنتونونو د دروازو د بندېدو د نویو ښځینه مسلکي ډاکترانو روزنه دروليې ده، چې په راتلونکي کې به د روغتیایي خدمتونو برخه له لوی تشې او خورا سختو ستونزو سره مخ شي.

یو نوی خپور شوی راپور ښیي چې په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د ښځو روغتیایي وضعیت له خورا سختو ګواښونو سره مخ شوی او ورځ تر بلې په خرابېدو دی.

د افغانستان د تحلیل شوی شبکې په یو خپور شوي راپور کې راغلي چې:

«په لرو پرتو او کلیوالي سیمو کې ښځو ته د روغتیایي اسانتیاوو رسول تر ټولو زیات له خطر سره مخ دي، ځکه ګڼ کلینیکونه تړل شوي، د ښځینه ډاکترانو سخت کمښت دی او کمزوري اقتصادي وضعیت کورنی د ترانسپورت د لګښت ورکولو څخه عاجزې کړې دي.»

د طالبانو حکومت په ۲۰۲۴م میلادي کال کې د نویو ښځینه روغتیایي متخصصینو د روزنې لاره په بشپړ ډول بنده کړه او تر هغه وړاندې یې د ښځینه ډاکترانو د زده کړو مخه نیولې وه. د یادې شبکې راپور زیاتوي چې یوازې په کاپیسا ولایت کې ۲۰ داسې سیمې شته چې لږ تر لږه ۱۰ زره کسان په کې له خپلو کورونو څخه تر ۱۰ کیلومترۍ پورې هیڅ ډول روغتیایي خدماتو ته لاسرسی نه‌لري.

یادې شبکې د روغتیا نړیوال سازمان د استازې، موکتا شرما له قوله لیکلي:

«اوسمهال په افغانستان کې د اومیندوارو میندو د مړینې کچه لوړه شوې او په هرو ۱۰۰ زرو ژوندیو زېږونونو کې، د مړینې کچه له ۵۲۱ څخه تر ۶۲۰ میندو ته پورته شوې ده.»

په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کمولو لپاره اړتیا ده، چې د ښځو د ملاتړ په نوم د نړیوالې ټولنې او افغان دولت له لوري میلیونونه ځانګړي شوي پیسې په رښتیني توګه د ښځو د وضعیت د ښه‌والي لپاره ولګول شي، نه دا چې یوازې په ښارونو کې د شعاري غونډو او ځینې بېګټو پروژو پر تطبیق ولګول شي. اړتیا ده چې د ښځو د ملاتړ لپاره په خپله ټولنه کې د ښځو د بشري او اسلامي حقونو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړل شي، ښځو سره د تاوتریخوالي لاملین محاکمه شي او د هېواد په لرې پرتو سیمو کې ښځو ته د لومړنیو بشري آسانتیاوو د لاسرسي زمینه برابره شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په اوسنیو شرایطو کې چې پاکستان په بیلا بیلو پلمو پر افغانستان هوایي بریدونه کوي، طالبان باید هڅه وکړي چې له ډیپلوماتیک انزوا څخه ځان وباسي د افغانانو مشروع غوښتنې ومني، پر ښځو او نجنو باندې د اسلامي حقونو محدودیتونه د اسلامی شریعیت د حمکونو په نظر کې نیولو سره پای ته ورسوي، د نجنو د تعلیم دروازې پرانېزي، د ښځو له پاره د کار شرایط د اسلامي حجاب په عملي کولو سره برابر کړي، د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې مشروع غوښتنې ومني چې دغه چارې هم د داخلي مشروعیت د ترلاسه کولو او هم د نړیوال مشروعیت او د نظام د بقا غوره لاملونه دي.

همدا ډول د پاکستان د هوایي بریدونو د مخنیوي له پاره، افغان دولت ځواکمن هوایي او مدافع هوایي سیستمونو ته اړتیا لري چې د وسلو پلورلو په موخه ښکېل هېوادونه یوازې له یوه مشروع حکومت سره معاملې ته داخلېږي، په خواشېنی سره چې افغانستان په داسې یوه وضعیت کې نه دی چې د رسمي قراردادونو له لارې خپل دفاعی او نظامی سیستم پیاوړي کړي، چې یوازې د خپل دفاعي ظرفیت په پیاوړي کولو سره کولای شي د بهرني تېري د تکرار مخه ونیسي ، نو ځکه یو ځل بیا په جدي توګه پورتنیو غوښتنو او اړتیاوو ته د طالب چارواکو پاملرنه را اړوم.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ